# د 450$ کرونا وایروس (COVID-19) د ازمويني لپاره ملاتړ

$450 Coronavirus (COVID-19) testing support – Pashto

### د هر چا لپاره وړیا ازموینه

د کرونا وایروس ازموینه د هر چا لپاره **وړیا ده**. پدې کې د میډیکیئر کارت پرته خلکشامل دي لکه بهرني لیدونکي، کډوالف کارمندان، او پناه غوښتونکي.

که چیرې تاسو د کرونا وایروس علایم لرئ نو تاسو باید د ځان ازموینه وکړئ.

**که چیرې تاسو د ځان ازموینه کوئ ، نو تاسو د ویکتوریا دولت ځخه مالي مرسته ترلاسه کولی شي.**

وروسته له هغه چې تاسو د کرونا وایرس (COVID-19) ازموینه وکړئ، نو تاسو باید تر هغه وخت پورې په خپل کور کې پاتې شئ چې د ازموینې پایلې مو ترلاسه کړی نه وي. تاسو یوازې په هغه صورت له کور ځخه وتلې شئ که چیرې دا یو بیړنی حالت تاسو نشئ کولای کار ته لاړ شئ.

که چیرې تاسو د خپلې ازموینې پایلو د انتظار پرمهال د خپلې دندې عاید له لاسه ورکولو په اړه اندیښنه لرئ، نو تاسو ممکن د ویکتوریا دولت ځخه د کرونا وایروس (COVID-19) ملاتړ په توګه د 450$ ترلاسه کولو وړ یاست.

دا ملاتړ د هغه کارمندانو لپاره شتون لري ځوک چې د ناروغۍ رخصتي نه لري دوی یې کارولی شي. په دې کې تصادفی کارمندان، قراردادي کارمندان او هغه کارمندان شامل دي ځوک چې نور د ناروغۍ رخصتي نه لري.

هرځوک چې په ویکتوریا کې ژوند کوي کولای شي دا مرسته ترلاسه کړي– تاسو د دې مرستې ترلاسه کولو لپاره اړتیا نه لرئ چېد استرالیا تبعه یا دایمي اوسېدونکی واوسئ.

که چیرې تاسو په کرونا وایروس (COVID-19) باندې اخته یا د یو چا سره نږدې اړیکه تائید شوي یاست ځوک چې په کرونا وایروس (COVID-19) لري، نو تاسو باید ځان له اوږدې مودې لپاره جلا کولو ته اړتیا ولرئ. او تاسو ممکن د 1500$ ملاتړ تادیه ترلاسه کولو وړ واوسئ.

د ویکتوریا دولت دا مالي ملاتړ د هغه کارمندانو لپاره هم چمتو کوي ځوک چې د هغه ماشومانو پالنه کوي چا ته چې په کور کې د پاتې کیدو ویل شوي. تاسو همدارنګه کولای شئ ملاتړ ترلاسه کړئ که چیرې نشئ کولای کار ته لاړ شئ او خپل اجرت به له لاسه ورکړئ.

د نورو معلوماتو لپار یا د غوښتنه کولو لپاره، د کرونا وایروس تلیفوني کرښې ته په 1800 675 398 باندې زنګ ووهئ یا دا وګورئ:
www.dhhs.vic.gov.au/covid-19-worker-support-payment

**For information in other languages, scan the QR code or visit**
DHHS.vic –Translated resources - coronavirus (COVID-19)
**<https://www.dhhs.vic.gov.au/translations>**

**If you need an interpreter, call TIS National on 131 450**

**For any questions**
**Coronavirus hotline 1800 675 398 (24 hours)**
**Please keep Triple Zero (000) for emergencies only**

To receive this document in another format phone 1300 651 160 using the National Relay Service 13 36 77 if required, or email Emergency Management Communications <em.comms@dhhs.vic.gov.au>.

Authorised and published by the Victorian Government, 1 Treasury Place, Melbourne.

© State of Victoria, Australia, Department of Health and Human Services, 16 October 2020.
Available at https://www.dhhs.vic.gov.au/translations



VICTORIA State Government | Health and Human Services